# نه اوړی

لا نه یم ستړی شوي ستا د مینی په مزل کی
هرکله یادوم دی په داستا ن او په غزل کی
چی ګل پسی څوک ګرځي داغزی محنت یی باسی
سپا رلی می زړه تا ته په اخر او په اول کی
جذ به ستا د مینی له تقوا یمه ویستلی
تیاره لار می رڼا شی ستا د حسن په مشعل کی
منی که نه منی ستا له مینی «مل» نه اوړی
دستا به وی په یاد چی مونږ آشنا شو په کا بل کی
*****

پو هندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۵-۹-۲۲